**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .
کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي
.

**عدلیې وزارت د خپلو فعالیتونو او لاسته راوړنو یو کلن راپور وړاندې کړ**

دوشنبه ۱۴/٦/۱۴۰۱ - ۱٦:۱۲




شیخ عبدالکریم حیدر، د عدلیې وزارت مسلکي معین د یکشنبې په ورځ، د صفرالمظفر په ۸مه، ملت ته د دولت حساب ورکولو کنفرانس کې د دې وزارت د فعالیتونو او لاسته راوړنو یو کلن راپور وړاندې کړ.

د عدلیې وزارت معین د کنفرانس په ترڅ کې وویل چې دې وزارت په تېر یو کال کې ۲۰ تقنیني سندونه، چې کړنلارې او د تقنیني سندونو مسودې پکې شامل دي، تسوید او تدقیق کړي او د اسلامي امارت وزارتونو او ادارو ته یې ۱۷۲ حقوقي مشورې ورکړې او د وزارتونو د ۷ تقنیني سندونو په تړاو یې نظر ورکړی دی. هغه زیاته کړه چې دې وزارت همدارنګه د ۲٦ نړیوالو حقوقي سندونو مسودو په هکله د نظر څرګندونه کړې او د هیواد له رسمي ژبو څخه یې بهرنیو ژبو ته د ۸۲۴۲۲ سندونو ژباړه تصدیق کړې ده.

همدارنګه د عدلیې وزارت معین وویل چې دې وزارت تېر کال په ټول هیواد کې د عریضو او دوسیو په ګډون ۹۷۷۰۰ حقوقي قضیې، ، ثبت او ورته یې رسیدګي کړې ده چې له دې جملې څخه ۳۳۷۰۰ املاکي عریضې ، ۵۷ زره د سوداګریز دیوانونو عریضې او ۷ زره فامیلي عریضې دي.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .
کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي
.

د نومونړي په وينا، د ثبت شويو قضيو له جملې څخه، ۴۶۰۱ قضيې د منځګړيتوب او مصالحې له لارې محاکمو ته د ارجاع پرته حل او فصل شوي، ۱۹ زره قضيې محکمو ته استول شوي، ۷۷۰۰ قضيې د پراوونو تېرولو په موخه مسئوولو ادارو ته استول شوي، ۳۹ زره قضيې حفظ شوي او ۲۵۸۹۵ قضيې هم تر کار لاندې دي.  هغه زياته کړه چې تېر کال ۱۵۰۴ دوسيې دې وزارت ته رارسېدلې دي چې له دې جملې څخه يې ٦۹٥ دوسيې تطبيق شوي، ٦۰۹ دوسيې سترې محکمې او نورو مراجعو ته استول شوي او پاتې ۲۰۰ دوسيې په دوران کې قرار لري.




د عدليې وزارت معين بېوزله شکمنو او تورنو ته د وړيا حقوقي مرستو د چمتو کولو په برخه کې د دې وزارت مسئووليتونو ته په نغوته وويل چې دې وزارت په تېر کال کې په عدلي او قضايي مراجعو کې د ۱٦۷ شکمنو او تورنو له حقوقو څخه دفاع کړې ده او ۱٦۳ وړيا حقوقي مشورې يې وړاندې کړې دي. هغه زياته کړه چې دې وزارت د حقوقي عامه پوهاوي ۷۸ برنامې پلې کړي او د ٦۹۳٦ کسانو لپاره يې د عامه پوهاوي پروګرامونه پر لاره اچولي دي.

د عدليې وزارت معين د خپلو خبرو په يوه بله برخه کې وويل چې دې وزارت تير کال يوازې په کابل کې ۱۲۱۵ د معاملاتو د لاربنودنې دفترونو او ۷۳۱ عريضه ليکونکو ته د فعاليت جوازليک ورکړی او ۷۰۷ د ثبت کتابونه يې ويشلي او د معاملاتو د لاربنودنې او عريضه ليکنې ۲۰۹۵ معلوماتي فورمې يې صادرې کړې دي. هغه زياته کړه چې ۱۱٦۹ بابه د معاملاتو د لاربنودنې دفترونو څارنه او ارزونه ترسره شوې چې ۳۲۹ بابه يې د سرغړونو له امله تړل شوي دي. په دې کال کې ۲۹۰ د معاملاتو د لاربنودنې دفترونو خپل جوازليکونه فسخه کړي او د ۱۸۳ نورو د معاملاتو د لاربنودنې دفترونو جوازونه هم لغوه کړل شوي دي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLOپه اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ .

هغه وویل چې تېر کال د ټولنو او خیریه بنسټونو د جوازلیک لپاره ۱۵۰ غوښتنلیکونه دې وزارت ته راغلي چې له منځ څخه یې ۹۲ کسانو ته جوازلیک صادر شوی، ۱۷ کسانو د تعرفې او بانکي تضمین لپاره بیاځلې مراجعه و نه کړه، او پاتې ۴۱ غوښتنلیکونه په جریان کې قرار لري. هغه زیاته کړه چې د ۲۱۲ بنسټونو له دفترونو څخه لیدنه او څارنه ترسره شوې ده چې له دې جملې څخه ۱۵۰ نوي نهادونه او پاتې ٦۲ پخواني دي. ۴ خیریه بنسټونه د ناقانونه فعالیتونو او د خلکو د شکایتونو پر بنسټ تړل شوي دي.




شیخ صاحب وویل چې عدلیې وزارت د ٦ زره هغه مؤسساتو چې په تېر حکومت کې یې جوازلیک ترلاسه کړی و، ارزونه پیل کړې او تر دې دمه ۵۳۲ دوسیې ارزول شوې دي چې له منځ څخه یې ۳۰۰ مؤسسې فعالې او پاتې ۲۳۲ غیرفعالې تثبیت شوې دي.

د عدلیې وزارت معین وویل چې دې وزارت د چین د خلکو جمهوریت په ملاتړ د دې وزارت په محوطه کې د یوه باب جومات رغول پیل کړي چې ۷۵ سلنه کار یې بشپړ شوی او پاتې کار یې لا هم جریان لري.

هغه زیاته کړه چې د مدافع وکیلانو د ارزونې بهیر عدلیې وزارت کې په اونۍ کې دوه ورځې ادامه لري او تر دې دمه یې د ۸۴۴ مدافع وکیلانو لپاره د ارزونې ۱٦ دورې ترسره کړې دي چې په پایله کې یې ۷۸۵ تنه بریالي شوي، ۳٦ تنه ناکام شوي او پاتې ۲۳ تنه غیرحاضر وو. هغه زیاته کړه چې تر اوسه پورې ۴۱۵ مدافع وکیلانو ته د وکالت جوازلیکونه توزیع شوي دي.

د عدلیې وزارت معین روښانه کړه چې د دولت حقوقو او ګټو نه د دفاع په برخه کې، د محکمې د حکم پر بنسټ له ۳۰۳۲ جریبه زیاته ځمکه او یو باب دکان د اسلامي امارت په ګټه فیصله شوي او د محکمې حکم هم ورباندې پلی شوی دی. همدارنګه، د امارت په

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې . کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي
.

ګټه له ۱۱ میلیونه او ۷۳۵ زره زیاتو فیصله شوې افغانۍ او تر ۷٦۰ زیات فیصله شوي ډالر د اسلامي امارت حساب ته سپارل شوي او تر ۱۵۲ جریب زیاته ځمکه او ۱٦ دربند جویلیو په تړاو د محکمې حکم، چې د اسلامي امارت په ګټه فیصله شوی، د تطبیق په موخه اړونده ادارو ته استول شوي دي .

هغه زیاته کړه چې له ۲۴۲ میلیونه او ۱۹۹ زره نه ډېرې افغانۍ او له ۲۷ میلیونه او ۲۷۸ زره نه ډېر ډالر هم د تطبیق په موخه استول شوي دي.



د عدلیې وزارت د مسلکي معین په وینا، په دې موده کې د موازي په برخه کې د ۴۹۳۴۸ جریبو نه زیاتې ځمکې او د ۱۸۰ بابه دکانونو استردادي قرار صادر شوی او یا، د تثبیت وروسته، قرار د اسلامي امارت په ګټه تطبیق شوی دی. د ۱۸۲۹ جریبه ځمکې په اړوند صادر شوي قرارونه هم د تطبیق په موخه استول شوي دي. د عدلیې وزارت د هلو ځلو پر بنسټ ۳۰۸ زره او ۹۳۵ جریبه ځمکه هم اړونده ادارو ته تسلیم شوې ده.

شیخ عبدالکریم حیدر په تېر یو کال کې د راټولو شویو عوایدو په باره کې هم وویل چې عدلیې وزارت په دې موده کې په ټولیز ډول ۱۰۷ میلیونه، ۱۵۲ زره او ۵۳۳ افغانۍ عواید راټول کړي او د افغانستان اسلامي امارت خزانې ته یې سپارلې دي. هغه زیاته کړه چې په تېر کال کې د دې وزارت ټول لګښت نږدې ۱۵۰ میلیونه افغانۍ و چې له دې جملې څخه یې ۹٦ میلیونه افغانۍ د دې وزارت د کارمندانو د معاشونو په ورکړه او پاتې ۵۴ میلیونه افغانۍ د اړتیا وړ توکو د پېرلو، د وزارت د ساتنې او څارنې او نورو مواردو کې لګول شوي دي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLOپه اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ .